# د شیرِ خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْه زُهد

**14-April-2023**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

14 اپریل 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د شیرِ خُدا رضي الله عنه زُهد

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د يو ځل واقعه ده، د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په يو ځائے کښې تشريف فرما وو، د هغوئي نه لږ لرې يو څو کافران ناست وو، يو فقير د هغه کافرانو خوا له راغـے او خير ئې ترې اوغوښتو، د هغه کافرانو شرارت ته خيال شو او هغوئي د حضرت مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ طرف ته اشاره اوکړه او هغه فقير ته ئې اووئيل: د هغه خوا له لاړ شه هغه به تا له خامخا څه درکړي. فقير ته خو مالي امداد پکـار وو، نو هغه د حضرت علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خدمت کښې حاضر شو، حضرت علـي الْمُرتضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا هر څه ليدل، نو **هغوئي 10 ځله درود پاک اولوستلو** او د هغه فقير د لاس په تلي ئې چپ کړو او ورئې فرمائيل: موټے بند کړه او چا چې ته دلته راليږلے ئې، د هغوئي په مخکښې ئې بيرته کړه.

(کافِرانو دا نظاره ليدله او خندل ئې چې په خالي چپ کولو سره څه کيږي...!) هغه فقير موټے بند کړو او د کافرانو خوا له لاړو او د هغوئي په مخکښې ئې موټے بيرته کړو اوس څه وو، هغه کافران کومو چې په هغوئي پسې خندا کوله، دا ئې چې اوليدل نو حيران پاتې شو چې هغه خالي موټے په کوم چې حضرت مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ درودِ پاک وئيلے وو او چپ

کړے ئې وو، په هغې کښې يو دِينار (د سرو زرو سِکه) موجوده ده. د اَميرُ المُؤمِنِين مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دا کرامت چې ئې اوليدلو نو ډير کافران مسلمانان شول.[1]

| | |
|---|---|
| پئے حسین و حسن فاطمہ علی حیدر | ہمارے بگڑے ہوئے کام دے بنا یا ربّ![2] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د عملونو دار و مدار په نيتونو باندې دے.[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** ښه نيت بنده جنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د سترګو ښکته کولو سره به ښه په تَوَجُّه سره بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په خاطر چې څومره وخت کيدے شي د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې به (يعني چې څنګه په لمُونځ کښې د التحيات وئيلو سره کښيناستے شي، هغه شان) کښينم ❀ د بيان نه پس به پخپله رامخکښې کيږم او سلام به کووم ❀ لاس به ميلاوهم ❀ او د نيکئ دعوت به وړاندې کووم. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیۡم!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د پوهه کولو ځانګړے انداز

د يو سَيِّد صاحب ډير تنګدسته وو، هغه به د سيّدي اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه سره د

---

[1] ... راحتُ القلوب، صفحه:50.

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:76.

[3] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 .

ملاقات د پاره راتللو او په خبرو خبرو کښې به ئې د خپلې غريبۍ او تنګ دستۍ شکايت هم کولو. يوه ورځ چې هغه سيِّد صاحب تشريف راوړو نو ډير پريشانه وو.

د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پوهه کولو انداز صد مرحبا...!! هغوئي په کمال حِکمت سره سَيِّد صاحب پوهه کړو او اوئې فرمائيل: ځويه! دا ارشاد اوفرمائې چې کومې ښځې له پلار طلاق ورکړے وي، هغه د ځوي د پاره حلاليدے شي؟ سَيِّد صاحب اوفرمائيل: نه. په دې باندې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: يو ځل ستاسو جَدِّ اعلیٰ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په تنهائې (ځانله ځائے) کښې په خپل مخ مبارک باندې لاس راښکل او اوئې فرمائيل: اے دُنيا! بل چا له دوکه ورکړه، ما تا له داسې طلاق درکړو په کوم کښې چې چرې هم رَجعت (يعني د بيا صلح کولو لاره) نشته. بيا هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: شهزادهٔ حُضُور! آيا د دې قول نه پس هم د ساداتِ کرامو په غريبۍ او تنګ دستۍ کښې مبتلا کيدل د حيرانتيا خبره ده؟ سيّد صاحب اووئيل: وَالله (په الله مې دې قسم وي)! ستاسو دې خبرو زما زړه ته سکون راکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې نه پس شهزاده چرې هم د خپلې غريبۍ ګيله اونکړله.[1]

حرِصِ دُنيا نکال دے دِل سے
بس رهوں طالبِ رِضا يارَبّ!

هائے حُسنِ عَمَل نهيں پلّے
حشر ميں ميرا هو گا کيا يارَبّ!

خوف دوزخ کا آه! رحمت هو
خاکِ طيبه کا واسطه يارَبّ!

دِل کا اُجڑا چمن هو پھر آباد
کوئی ايسی هَوَا چلا يارَبّ![2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:127 بتغير .
[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:80-81 ملتقطاً .

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې واقعه کښې زمونږه د زدکړې د پاره ډيرې خبرې دي، مثلاً ❁ د سيدي اعلیٰ حضرت امامِ اهلسنت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د پوهه کولو ښکلي انداز ته اوګورئ! يو سَيِّد صاحب به د خپلې غريبئ شکايت کولو، اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ څومره په کمال حکمتِ عملئ سره هغه پوهه کړو چې د سَيِّد اَدَب ئې هم اوساتلو او هغه ئې داسې پوهه کړو چې د هغه زړه ته خبره کوزه شوه او غم ئې لرې شو.

مونږ له هم پکار دي چې د نيکئ دعوت په حکمت عملئ سره ورکوؤ، کله، چرته په کوم ځائے کښې وئيل دي؟ څوک په کوم انداز کښې پوهه کول دي؟ په دې باندې غور هم اوکړئ او دا خبرې زده هم کړئ. د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ ډير ښکلے کتاب دے: **دنيکئ دعوت.** په دې کښې د نيکئ د دعوت ورکولو فضيلتونه، د نيکئ دعوت نه ورکولو نقصانونه او د نيکئ دعوت څنګه ورکول دي؟ د دې طريقے ليکلے شوې دي، دا کتاب اولولئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! په زبردست او اثرناکه مُبَلِّغ جوړيدو کښې به ډيره مرسته اوشي. اللّٰه پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي.

بد کلامی نہ ہو، یاوہ گوئی نہ ہو | بولوں میں کم سے کم، تاجدارِ حرم

❁ نور په دې واقعه کښې د زدکړې د پاره دا خبره هم ده چې د مسلمانانو څلورم خليفه، علي المرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چا ته چې په دنيا کښې د جنّت زيرے ورکړے شوے وو، د چا شهزادګان يعني امامِ حسن او امام حُسين رَضِیَ اللہُ عَنْہُما چې د جنّتي ځلمو سرداران دي، هلته علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د چا د دَر نه چې د زمانې جولئ ډکيږي، کوم چې

مشکل کُشَا هم دے، حاجَت روا هم دے، کوم چې د هر مسلمان مولا (محبوب او مددګار) دے، هغه مولائے کائنات، مولا علـي مشکل کُشَا، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دنيا سره څومره بے رغبتي ساتله، کله چې زمونږه دې پيشوايانو دُنيا او د دې محبت ته اونه کتل نو مونږ له هم پکار دي چې د دُنيا محبت له په زړه کښې بالکل هم ځائے ورنکړو.

حُبِّ دُنیا میں دِل پھنس گیا ہے
نفسِ بدکار حاوِی ہوا ہے
ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے
عشقِ احمد میں آنسو بہاؤں
حُبِّ دُنیا سے خود کو بچاؤں
ایسی توفیق دے اِلتجا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت علـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مختصر تَعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت مولا علـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مسلمانانو څلورم خليفه دے، هغوئي په مکه مکرمه کښې پيدا شول، د 10 کالو عمر مبارک کښې ئې اسلام قبول کړو[2]، د هغوئي مور د هغوئي نوم **حيدر** او والد د هغوئي نوم **علـي** کيښودو، رسولِ اکرم، نورِ **مُجَسَّم** صَلَّی اللّٰہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي له د **اَسَدُ الله** لقب ورکړو، د اَسَدُ الله معنٰی ده: شيرِ خُدا يعنې د الله پاک شير.[3]

علی المرتضیٰ شیرِ خُدا ہیں
کہ ان سے خوش حبیبِ کبریا ہیں

[1]... وسائل بخشش، صفحه:134-138 ملتقطاً .
[2] ... کرامات شير خدا، صفحه:12 ملخصاً.
[3] ... مرآة المناجيح، جلد:8 ، صفحه:412، ملخصاً.

❀ مولا علـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په اولنو مهاجرينو (يعنې په وړومبي سر کښې په هجرت کوونکو) او عَشَرَهَ مُبَشَّره (يعنې په هغه 10 خوش قسمته صحابهٔ کرام کومو ته چې خوږ آقا مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوم اخستلو سره د جنّت زيرے ورکړو، په هغوئي) کښې دے. [هغوئي] په غزوهٔ بدر، اُحد وغيره کښې شريک شول[1] ❀ د هغوئي شجاعت او بهادري ډيره مشهوره ده ❀ د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت نه پس هغوئي خليفه شول[2] ❀ هغوئي تر 4 کالو، 8 مياشتو او 9 ورځو پورې د خلافت ذمه وارئ ډيره په ښه او ښکلي طريقے سره پوره کړله[3] ❀ په 17 يا 19 رَمَضَانُ المُبَارَک 40 هجرئ باندې يو خبيث خارِجي هغوئي په يوه قاتلانه حمله کښې سخت زخمي کړل او په 21 رَمَضَانُ المُبَارَک 40 هجري د اتوار په شپه شهيد شو.[4] د الله پاک دې په هغوئي تولو باندې رحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

اَصلِ نَسلِ صَفا، وجہِ وَصلِ خُدا | بابِ فَضلِ وِلایَت پہ لاکھوں سلام[5]

**وضاحت:** حضرت علـي المُرتضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خالص د پاک ساداتو جرړه او بنياد دے، د واصِلِ بالله (يعنې الله پاک ته د نزدې) کيدو سبب او د وِلايَت د فضيلتونو دروازه ده، په هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دې ډير ډير سلام وي.

---

[1]... اسد الغابه، جلد:4، صفحه:88 .

[2]... تاريخ الخلفاء، صفحه:111.

[3]... کراماتِ شيرِ خدا، صفحه:13.

[4]... معرفة الصحابه، جلد:1 ، صفحه:100 .

[5]... حدائقِ بخشش، صفحه:313 .

## د مرتضٰی په شان کښې د مصطفٰے 3 فرامين

د مسلمانانو څلورم خلیفه، مولا علـي مشکل کُشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شان ډیر اوچت دے، د هغوئي فضیلتونه د آسمان د ستورو او د ښکو د ذرو په شان بے حده او بے شمیره دي: **(1)** خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہ علیہ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **مَنۡ کُنۡتُ مَوۡلَاهُ فَعَلِیٌّ مَوۡلَاهُ** یعنې زه چې د چا مولا یم، د هغه علـي مولا دے. بیا هغوئي صَلَّی اللّٰہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: **اَللّٰهُمَّ وَالِ مَنۡ وَالَاهُ وَعَادِ مَنۡ عَادَاهُ** یعنې اے الله پاکه! څوک چې د علـي سره محبت اوکړي، تهٔ د هغه سره محبت اوفرمایه او څوک چې د علـي سره دښمني اوساتي، تهٔ د هغه سره دښمني اوفرمایه.[1]

جس کسی کا میں ہوں مولیٰ، اس کے مولا ہیں علی | ہے یہ قولِ مصطفٰے مولا علی مشکل کُشا![2]

**(2)** د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **اَلنَّظَرُ اِلٰی وَجۡهِ عَلِیٍّ عِبَادَةٌ** یعنې د علـي مخ ته کتل عبادت دے.[3]

**(3)** د مسلم شریف حدیثِ پاک دے او د هغې راوي (یعنې حدیث بیانولو والا) پخپله حضرت علـي المُرتضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے، فرمائي: زما دې په هغه ذات باندې قسم وي! کوم چې دانه شلولې (یعنې د دانے نه وَنه را اوباسي)، په هغه ذات مې دې قسم وي! کوم چې رُوح پیدا کړو، بے شکه د نبي اُمِّيّ، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما سره وعده ده چې **اَنۡ لَّا یُحِبَّنِیۡ اِلَّا مُؤۡمِن وَاَنۡ لَّا یُبۡغِضَنِیۡ اِلَّا مُنَافِق** یعنې زما سره به محبت نه ساتي خو مؤمن

[1]... مصنف ابنِ ابی شیبہ، کتاب الفضائل، فضائل علی بن ابی طالب، جلد:7، صفحہ:499، حدیث:28.

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:521.

[3]... مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، باب النظر الی علی عبادة، جلد:4، صفحہ:118، حدیث:4737.

او زما سره به بُغض (يعني په زړه کښې دښمني) نه ساتي خو مُنَافِق.[1] [يعني زما سره به صرف مومنان محبت کوي او منافقان به راسره دُښمني ساتي].

میں گُناہوں کا مریض اور آپ ہیں میرے طبیب
دیجئے! مجھ کو شِفا مولا علی مشکل کُشا!
مغفرت کروایئے! جنّت میں لے کے جایئے!
واسطہ حسنین کا مولا علی مشکل کُشا!
اشکبار آنکھیں عطا ہوں، دِل کی سختی دُور ہو
دیجئے خوفِ خُدا مولا علی مشکل کُشا!
بھیک لینے کے لئے دربار میں منگتا ترا
لے کے کشکول آگیا مولا علی مشکل کُشا!
کیوں پھروں در در بھلا خیرات لینے کے لئے
میں فقط منگتا ترا مولا علی مشکل کُشا![2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زُهد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د مولائے کائنات، مولا علـي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډېر زيات اعلٰى صفتونه دي، هغوئي ته په حديثِ پاک کښې **بابُ مَدِيْنَةِ الْعِلْم** (يعني د عِلم د ښار دروازه) وئيلے شوي ده،[3] د هغوئي د شجاعت او بهادرئ څه مثال نشته، دا هم وئيلے شوي دي چې **لَا سَيْفَ اِلَّا ذُوالْفِقَارِ وَلَا فَتٰى اِلَّا عَلِيٌّ** يعني (څلمے نه دے خو علـي او توره نه ده خو ذُوالفقار).[4]

اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

بَہرِ تسلیمِ علی میداں میں
سر جھکے رہتے ہیں تلواروں کے[5]

---

[1]... مسلم، كتاب الايمان، باب الدليل على ان حب الانصار، صفحہ:50 ، حديث:78.
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:522- 523- 524 ملتقطاً .
[3]... معجم كبير، جلد:5، صفحہ:264، حديث:10898.
[4]... تاريخِ مدينہ دمشق، جلد:42، صفحہ:71.
[5]... حدائقِ بخشش، صفحہ:360.

❀ هم داسې د مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تقویٰ، د هغوئي پرهيزګاري ❀ د هغوئي عشقِ رسول ❀ د هغوئي د الله سره محبت ❀ د هغوئي د عبادتونو شوق غرض: بې شميره صفتونه دي کوم چې مونږ ته د مولا علـي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د پاک سيرت نه د زده کولو د پاره ميلاويږي.

## په صحابهٔ کرامو کښې د ټولو نه لوئے زاهد

د مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په دې اعلیٰ اوصافو او کمالاتو کښې يو اهم صفت دے: د شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زُهد او د دُنيا سره رغبت نه لرل. دا د حضرت علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خاص صفتونو کښې يو اهم صفت دے. د خپل وخت ډير لوئے مُحَدِّث حضرت سُفيَان بن عُيَينَه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: په صحابهٔ کرامو علیھمُ الرِّضوَان کښې د ټولو نه لوئے زاهد اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت علـي المُرتضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وو.[1]

## د حضرت علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ښکلا زُهد وه

د صحابئ رسول حضرت عمّار بن ياسر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه ورځ حضرت مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته اوفرمائيل: اے علـي! الله پاک تهٔ په داسې ښائست ښکلے کړے ئې چې د دې نه زيات ښائست ئې خوک نه دے ښکلے کړے، دا د الله پاک سره د نيکانو خلقو ښکلا ده يعني د دُنيا سره رغبت نه لرل. بس اوس نه د دُنيا ستا سره څه مطلب دے، نه ستا د دې سره څه کار...!! (اے علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ!) الله پاک تا ته د مسکينانو محبت عطا کړے دے.[2]

---

[1]... احياء علوم الدين، کتاب الفقر و الزهد، بيان تفضيل الزهد فيما هو ...الخ، جلد:4 ، صفحه:290.

[2]... حلية الاولياء، جلد:1، صفحه:113، حديث:223.

## زُهد یوه ښکلا ده

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې زُهد (يعنې د دُنيا نه بےرغبته کيدل) ښکلا ده او ښکلا هم کومه؟ د الله پاک د نيک بندګانو ښکلا، هغه ښکلا کومه چې الله پاک خوښه کړه او د مولا علـي، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د شان نه قربان شم! چې الله پاک هغوئي د خوښې په دې ښکلا ښکلے کړو.

کاش! چې مونږ ته هم د دُنيا نه بے رغبتي نصيب شي! کاش! چې د زړه نه د دُنيا محبت اوځي، د الله او د رسول محبّت په زړه کښې داسې ځائے جوړ کړي چې د بَل يو څيز د پاره په زړه کښې ځائے هم پاتې نه شي.

حُبِّ دُنیا سے تُو بچا یارَبّ!
کاش! لب پر مرے رہے جاری
آہ! طغیانیاں گناہوں کی
نفس و شیطان ہو گئے غالِب

عاشقِ مصطفےٰ بنا یارَبّ!
ذِکر آٹھوں پہر ترا یارَبّ!
پار نَیّا مری لگا یارَبّ!
ان کے چُنگل سے تُو چُھڑا یارَبّ! [1]

## اُمَّت ته د دُنيا سره د رغبت نه ساتلو حکم

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

(پاره:14، سورۂ حجر:88)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: تاسو هغه مال او اسباب ته مه ګورئ د کوم په ذريعه چې مونږه د کافِرانو ډير قسمونه فائدې اخستلو ته پريښودل.

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:79 ملتقطاً .

علمائے کرام فرمائي: دا حکم په اصل کښې زمونږه د غلامانِ مصطفٰے د پاره دے، يعنې مونږه مسلمانانو ته فرمائيلے شوي دي چې اے د محبوب صَلَّی اللّٰہُ علیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو! تاسو ته د محبوب صَلَّی اللّٰہُ علیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله څنګه څنګه نعمتونه عطا شول، تاسو ته ايمان ميلاؤ شو، اسلام عطا شو، قرآنِ کريم درکړے شو، د داسې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ علیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت لمَن تاسو ته درکړے شوه، بيا به د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ علیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیم! تاسو ته د جنّت هميشه پاتې کيدونکي نعمتونه هم عطا کړے شي، دا هر څه چرته د کافِرانو په نصيب کښې دي...!! دې د پاره کافِرانو ته ميلاؤ شوي دنيائي، فاني مال او اسبابو ته مه ګورئ! دې ته هيڅ کله هم د لالچ په سترګو مه ګورئ!

## دُنيا فاني ده، آخرت باقي دے

اے عاشقانِ رَسُول! دا حقيقت دے! دُنيا فاني ده، دا به ډيره زر فنا شي، دلته چې څومره هم عيش اوکړې، چې څومره هم مال جمع کړې، آخر فنا کيدل دي، د دُنيا نه خالي لاسونه تلل دي. مونږه ټولو ته د دې خبرې پته ده خو افسوس! د دُنيا مال و دولت، د دې فاني نعمتونو محبت زمونږه په زړونو کښې کور جوړ کړے دے، آه! کاش! مونږه د دُنيا په ځائے د آخِرت طلبګار جوړ شو. اللّٰه پاک فرمائي:

قُلۡ اَؤُنَبِّئُكُمۡ بِخَيۡرٍ مِّنۡ ذٰلِكُمۡ ؕ لِلَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا عِنۡدَ رَبِّهِمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا

(پاره:3، سورهٔ آلِ عمران:15)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الايمان: تاسو اوفرمائې! آيا زه تاسو ته د دې نه بهتر څيز اوښائم د پرهيزګارانو د پاره د هغوئي د رَبّ سره جنتونه دي، د کومو لاندې چې نهرونه بهيږي، هميشه به په دې کښې اوسيږي.

يعني اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! خلقو ته اوفرمايه! چې آيا زه تاسو ته د دنيا د مال و دولت، سرو او سپينو زرو، کاروبار، باغونو، ښه سوَرلو او بهترينو کورونو نه ښه، بهتر څيز اوښائم؟ واورئ! هغه د الله پاک د نزدې والي کور يعني جنّت دے، په دې کښې د پئيو، شهدو[يعني ګبين]، پاکو شرابو نهرونه بهيږي، دا جنّت د پرهيزګارانو د پاره دے او هغوئي به هميشه په دې کښې اوسيږي.[1]

## د آخِرت طلبګار جوړ شئ...!!

د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: واورئ! بيشکه دُنيا مخ اړوي او آخرت را روان دے، دا دواړه طلبګار دي، تاسو د دُنيا طلبګار مه جوړيږئ! د آخرت طلبګار جوړ شئ...!! بيشکه نن د عمل ورځ ده، نن حِساب نشته، سبا د عمل وخت نشته، د حِساب ورځ به وي.[2]

حرِصِ دُنیا نکال دے دِل سے
بس رہوں طالِبِ رِضا یارَبّ!

ہائے حُسنِ عَمَل نہیں پلّے
حشر میں میرا ہو گا کیا یارَبّ!

خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو
خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ!

دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد
کوئی ایسی ہَوَا چلا یارَبّ![3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ قناعت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** زمونږه آقا، مولائے کائنات، مولا علـي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د

[1]... تفسير صراط الجنان، پاره:3، سورۂ آلِ عمران، تحت الآية:15، جلد:1، صفحه:446 بتغير قليل .
[2]... فضائل الصحابة لامام احمد بن حنبل، جز:1 ،صفحه:530، حديث:881.
[3]... وسائل بخشش، صفحه:80-81 ملتقطاً.

زُهد څومره ښکلے شان دے...!! هغوئي اَمِيرُ المُؤمِنِين وو، خَلِيفَةُ المُسلِمِين وو، تاج او تخت د هغوئي وو، که هغوئي غوښتلے نو د عيش و عِشرت نه ډک ژوند ئې تيرولے شو خو هغوئي د زُهد او تقویٰ والا، د صبر او قناعت والا ژوند تيرول خوښ کړو. حضرت سُويد بن غَفله رضی اللہ عنہ فرمائي چې زه د اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت مولائے کائنات، علي المُرتضٰی شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ په خِدمت کښې په دَارُ الاَمارة کوفه کښې حاضِر شوم. د هغوئي رضی اللہ عنہ مخې ته د وربشو ډوډئ او د پئيو يوه پياله کيښودے شوې وه، ډوډئ وچه او دومره سخته وه چې کله به ئې په خپلو لاسونو او کله به ئې په خپلو زنګونانو باندې کيښوده او نيموله به ئې. دا چې مې اوليدل نو ما د هغوئي رضی اللہ عنہ وينځې فِضّه رضی اللہ عنہا ته اووئيل، ستاسو په دوئي زړه نه خوږيږي؟ اوګورئ په ډوډئ پسې بوس نښتي دي، د دوئي د پاره وربشې چڼوئ او نرمه ډوډئ ورله پخوئ. د پاره د دې چې په ماتولو کښې خواري نه وي. فِضّه رضی اللہ عنہا جواب راکړو: اَمِيرُ المُؤمِنِين رضی اللہ عنہ زمونږ نه وعده اخستې ده چې د دوئي د پاره به چرې هم وربشې د چڼولو سره نه پخوؤ. په دې کښې اَمِيرُ المُؤمِنِين رضی اللہ عنہ زما طرف ته متوجه شو او اوئې فرمائيل: اے ابنِ غَفله! تاسو دې وينځې ته څه فرمائې؟ ما چې څه وئيلي وو هغه مې عرض کړل او خواست مې اوکړو: چې يَا اَمِيرُ المُؤمِنِين! تاسو په خپل ځان باندې رحم اوکړئ او دومره خواري مه کوئ. نو هغوئي رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: اے ابنِ غَفله! د دواړو جهانونو سردار، مکي مدني سرکار، محبوبِ پروردګار صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم او د هغوئي بال بچ چرې هم درے ورځې پوره د غنمو ډوډئ په مړه خيټه نه ده خوړلې او نه د هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د پاره چرې وړه چڼ کړے شول او پاخه کړے شول. يو ځل په مدينه منوره کښې لوږې ډير زيات تنګ کړو نو زه د مزدورئ د پاره اووتم، اومې کتل چې يوه زنانه لوټې راجمع کوي او هغه لمْدول غواړي ما د هغې سره د ډول په سر يوه کجوره اجرت کيښودو او شپاړس ډوله مې واچول او هغه

لوټې مې لمْدې کړې تر دې پورې چې زما لاسونه پوښاقې شول بيا مې هغه کجورې را واخستې او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم او ټوله واقعه مې بيان کړه نو هغوئي صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د هغې نه يو څو کجورې اوخوړلې.[1]

## په جامو کښې سادګي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت مولائے کائنات، علـي الْمُرتضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په سادګئ دې زمونږه ځان قربان وي. د دومره تکليفونو زغملو باوجود به ئې په ژبه چرې هم د شکايت لفظ نه راتللو. د طعام سره سره د هغوئي جامې هم ډيرې ساده وې. يو ځل د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خِدمت کښې عرض اوکړے شو: تاسو په خپل قميص کښې پيوند ولې لګوئ! اوئې فرمائيل: يَخْشَعُ الْقَلْبُ وَيَقْتَدِی بِهِ الْمُؤمِنُ يعني د دې سره په زړه کښې عاجزي پيدا کيږي او د دې په وجه خلق د مومن بنده اِقتدا کوي.[2]

سُبْحٰنَ الله! کاش! چې د حضرت علـي الْمُرتضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په وسيله زمونږه هم د زُهد او تقویٰ دولت نصيب شي، کاش! چې زمونږ د زړه نه د دُنيا دولت اوځي، مونږه د دُنيا د عيش و عِشرت په ځائے د آخرت د آرام و سکون طلب ګار جوړ شو.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

محبت میں اپنی گُما یااِلٰہی!
نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی!

رہوں مست و بے خود مَیں تیری وِلا میں
پِلا جام ایسا پِلا یا الٰہی!

مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر
کر اُلفت میں اپنی فنا یا الٰہی!

تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے
مرے غوث کا واسطہ یا الٰہی!

---

[1]... تذکرة الخواص، الباب الخامس، صفحہ:112.

[2]... حلية الاولياء، جلد:1 ، صفحہ:124.

## د زُهد اختيارولو ترغيب

د حضرت نَوف بِڪَالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے چې يوه ورځ اَمِيرُ الْمُؤمِنِين مولا مشكل كُشا حضرت علـي المرتضى رَضِیَ اللہُ عَنْهُ بهر را اووتلو او ستورو ته ئې كتل بيا ئې اوفرمائيل: اے نَوف! اوده ئې كه ويخ ئې؟ ما عرض اوكړو: يَا اَمِيرُ الْمُؤمِنِين! ويخ يم. اوئې فرمائيل: اے نَوف! په دُنيا كښې د زُهد اختيارونڪي او په آخِرت كښې د رغبت ساتونڪي د پاره زيرے دے. دغه هُغه خلق دي كومو چې (د اوسيدو د پاره د اوچتو ودانو [كورونو] جوړولو په ځائے خالي) زمكه اختيار كړه، د دې خاوره ئې خپله بستره جوړه كړه او د دې اوبه ئې خوشبو تَصَوُّر كړه، د قرآنِ كريم تلاوت او دُعا ئې خپله پيژندګلو او نښه جوړه كړه، د دُنيا نه ئې د حضرت عيسىٰ رُوح الله عَلَيْهِ السَّلَام په شان دِډه اختيار كړه.[1]

## د زُهد فائدې

د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت علـي المُرتضٰى رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عليهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **كوم كَس چې په دُنيا كښې زُهد اختيار كړي الله پاک هغه له عِلم لدُني وركوي او بغير د څه واسطې نه ورته هدايت عطا كوي، نورِ بصيرت ورته عطا كوي او د ضلالت او ګمراهئ نه ئې بچ كوي.**[2]

## اے علـي! تهٔ به هُغه وخت څه كوې...!!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ چې كله د زُهد او تقوىٰ، د دُنيا سره د رغبت نه لرلو وغيره بيان اورو نو شيطان په زړه كښې وسوسه اچوي چې اوس هغه حالات نه دي، دُنيا

---

[1]... حلية الاولياء ، جلد:1، صفحه:120.

[2]... حلية الاولياء ، جلد:1، صفحه:113 ، حديث:225.

بدله شوې ده، اوس دا هر څه نشي کېدے، د معاشرې سره هم تلل وي وغيره. راځئ! د دې وسوسے د علاج د پاره يو حديثِ پاک اورو: د مسلمانانو څلورم خليفه، مولا علي مشکل کشا شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يوه ورځ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: اے علي! کله چې خلق د آخِرت نه بے رغبته شي، د دُنيا سره محبت کوي، د وراثت مال په غړپ غړپ خوري، د مال سره ډېره مينه کوي، دين خرابوي او حکومت طرف ته مائل شي، هغه وخت به تهٔ څه کوې؟ حضرت مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! زه به دغه خلق او څه چې دوئي اختيار کړي دي پرېږدم، زه به الله پاک، د هغه رسول صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او آخِرت اختيار کړم، (تر مرګه پورې) به د دُنيا په مصيبتونو او آفتونو باندې صبر کووم، تر دې پورې چې ستاسو سره ميلاؤ شم. دا ئي چې واوريدل نو خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: تا رښتيا اووئيل. اے الله پاکه! علي ته د هم داسې کولو توفيق عطا کړې.[1]

پيکرِ خوفِ خدا اے عاشقِ خيرُ الورٰى | تم سے راضى كبريا مولا على مشكل كُشا

مونږه لږه د معاشرې جائزه واخلو، د معاشرې چې کومه نقشه په دې حديثِ پاک کښې بيان شوه، آيا هغه هر څه اوس نه کيږي...؟ ❁ خوږ آقا صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خلق به د آخرت نه بے رغبته شي. نن سبا خلق د آخرت د فِکر نه لرې دي، د خلقو يو کڼ شمير د قبر و آخرت د ياد نه غافله دي ❁ سرکارِ عالي وقار صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خلق به د دُنيا سره محبت کوي. نن سبا زيات خلق د دُنيا په مينه کښې ګير دي ❁ حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خلق به په غړپ غړپ د وراثت مال خوري. نن سبا د وراثت په

[1]... کنز العمال ، کتاب الفتن و الاہواء والاختلاف، جلد:6، جز:11 ،صفحہ:125 ، حديث:31516.

مال کښې خیانت کیږي، د نورو حقونه د ښپو لاندې راوستے شي. د وراثت مال حق داران د هغوئي د حقونو نه محرومه کوي ❁ رسولُ الله صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: خلق به د مال سره ډیره زیاته مینه کوي. نن سبا د مال محبت په زړه کښې کور کړے دے، د مال په مینه کښې غلاګانے کیږي، ډاکے کیږي، په ناپ تول کښې کمے کیږي، د مال په مینه کښې د ګناهونو بازار ګرمولے کیږي، د سود لین دَین کیږي، په حرامو ذریعو سره مال ګټلے کیږي، غرض: د مال میني په زړونو کښې کور کړے دے ❁ رسولِ ذِیشان صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: خلق به دِین خرابوي، د عهدې منصب او حکومت طرف ته به مائله کیږي. دا خبره هم مونږه په معاشره کښې لیدلے شو، داسې کیږي.

اوس لږ غور اوکړئ: که چرې زمونږه آقا، مولا علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ موجود وے نو هغوئي به څه کول؟ مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ 5 کارونه بیان کړل چې که چرې په داسې زمانه کښې هغوئي وو نو 5 کارونه به ئې کول: **(1)** هغوئي اووئیل: زه به هغه (د آخرت هیرونکي، د دُنیا سره محبت کوونکي او په دِین کښې فساد جوړوونکي) خلق پریږدم، څکه مونږ له هم پکار دي چې د داسې خلقو د صحبت نه ځان اوساتو، د آخِرت فِکر خپلوونکي، د قبر و آخرت په تیارئ کښې مصروفه اوسیدونکو نیک پرهیزګاره، عاشقانِ رسول صحبت اختیار کړو. **(2)** مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اووئیل: خلق چې هغه وخت څه اختیار کړي (یعني دُنیا پرستي، د آخرت نه بے فِکري، د مال مینه، د عهدې او حکومت محبت وغیره) زه به ټول پریږدم. څکه مونږ له هم پکار دي چې مونږه د دې څیزونو نه ځان خلاص کړو، د مال مینه، د دُنیا مینه، د آخرت نه بے فِکري، د عهدې او منصب حرص وغیره د زړه نه اوباسو، د قبر و آخرت تیاري اوکړو، جنّت ته بوتلونکي عملونه خپل کړو او په

زړه کښې د الله پاک د ویرې زیاتولو کوشش اوکړو. **(3)** مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اووئیل: زه به د الله او رسول اطاعت اختیارووم. دا هم ډیر اَهم کار دے، نن سبا یو سوچ کیږي چې

ہے جس طرف کی ہوا، اسی طرف کو چل

یعنې معاشره چې کوم طرف ته روانه ده، تهٔ هم هغه طرف ته روان شه! دا سوچ بالکل غلط دے، **زمونږ د پاره معیار معاشره نه ده، زمونږ د پاره معیار حالات نه دي، زمانه نه ده، یو قوم نه دے، زمونږه د ژوند معیار، زمونږ د پاره بهترینه نمونه د ګنبدِ خضرا اوسیدونکے، جنابِ صادق و امین** صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **دے.** معاشره که هر څنګه وي، حالات چې هر څنګه وي، مونږ ته د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اطاعت او فرمانبرداري کول دي. لږ غور اوکړئ! که چرې په معاشره کښې سود عام شي نو مونږه به هم سودي لین دَین شروع کوؤ؟ که چرې په معاشره کښې شراب او بد کاري عامه شي نو آیا مونږ به مَعَاذَالله! دا کارونه شروع کوؤ؟ نهٔ...!! هیڅ کله هم نه. مونږه به په هر حال کښې د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اطاعت او فرمانبرداري کوؤ. مونږه کلمه د معاشرې نه بلکه د الله او د رسول وئیلې ده. په دې خبره باندې مونږه مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پوهه کوي چې که چرې معاشره خرابه شي، خلق آخرت هېر کړي او دُنیا پرست شي، په دِین کښې فساد خوروي نو زه به د فتنو نه په دې ډک دور کښې هم د خلقو پرواه نه کووم، په معاشره پسې به نه ځم بلکه د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اطاعت او فرمانبرداري به اختیارووم.

دل سے دنیا کی محبّت دور کرکے یا علی! | دیدو عشقِ مصطفٰے مولا علی مُشکل کُشا!

**(4)** مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نور اووئیل: (چې کله خلق د آخرت نه غافِله کیږي او په دُنیا باندې

مئينږي) زه به هغه وخت دُنيا نه بلکه آخرت اختياروم. **(5)** او په دې هر څه کولو کښې به ستونزې رامخې ته کيږي، کله چې خلق خراب شي، د معاشرې نقشه بدله شي، په داسې وخت کښې د آخرت فِکر کول، د الله او د رسول فرمانبرداري کول، سُنَّت خپلول، د دُنيا نه بے رغبتي اختيارول به ډير ګران کار وي، خلق به پيغورونه درکوي، ګوتې دربانديې اوچتوي، په معاشره کښې درپسې رد بد وئيلے کيږي نو څه کول دي؟ مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اووئيل: يَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰہُ علیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه به په دې سختو، مصيبتونو او آفتونو باندې تر مرګه پورې صبر کووم.

**الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په اوسني د فتنو نه په دې ډک دور کښې مونږ له ژوند څنګه تيرول دي؟ زمونږه سوچ، زمونږه فِکر، زمونږه انداز، زمونږه کردار څنګه پکار دے؟ مولائے کائنات مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مونږ له يو پوره نصاب راکړے دے. کاش! مونږه په دې باندې عمل کولو والا جوړ شو. کاش! چې مونږه د دې انداز په اختيارولو کښې کامياب شو.

**اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د فتنو نه په دې ډَک دور کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول د الله پاک لوئے نعمت دے، اَلْحَمْدُ لِله! دعوتِ اسلامي لمُونځ ګزاره جوړوونکے، په ټوله دُنيا کښې د سُنَّتو خوروونکے ديني تحريک دے. تاسو هم د دعوتِ اسلامي ديني ماحول لمَن اونيسئ، په 12 ديني کارونو کښې هم بنه پوره

حِصَّه اخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د دين او دُنيا بے شميره خيرونه به در نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال هم دے. دا وړه شان رساله د مکتبة المَدينه نه طلب کړئ او که چرې اوغواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې **Naik Amal** ايپلي کيشن انسټال کړئ، په دې کښې په مختلفو نيکو عملونو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال لاندې 30 خانے دي، هره ورځ د خپلې خوښې يو وخت مقرر کړئ او د خپلو عملونو جائزه اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تيروئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِهن جوړيږي، د زړه پاکي به نصيب کيږي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے شي. راځئ د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنئ په سمه لار شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي ورور ماته د ماښام د لمُونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان په آخره کښې مبلغ د نيک اعمال رسالے پيژندګلو اوکړه، په رساله نيک اعمال کښې درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدلو سره ماته ډيره خوشحالي ميلاؤ شوه، د دې رسالے په شکل کښې د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدلو سره ما لاس په لاس د بيعت کولو

د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولیٔ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بیزاره شوم او نیکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په مزه مزه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمُونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرې باجے بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چینل په ځائے مدني چینل اولګیدو.[1]

| | |
|---|---|
| خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین |
| "مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین[2] |

## فیضانِ حدیث (Faizan e Hadees) موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه هم په مختلف انداز کښې د نیکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، په دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د *I.T* ډیپارټمنټ له خوا یو ډیر ښکلے، ځانګړے او ډیر فائده مند موبائل ایپلي کیشن د "فیضانِ حدیث" ***Play Store*** او ***App Store*** په نوم باندې وړاندې کړے شوے وو. اوس په دې کښې نور 2 کتابونه او د بهترین فیچرز زیاتوالے راوستے شوے دے. د کوم په ذریعه چې ❀ د لوستلو په وخت د اهمې خبرې د لیکلو سهولت ❀ د لوستلو د ځانله والي د پاره د ***Resume*** سهولت ❀ هره ورځ په یو حدیث سره زړونه منور کړئ ❀ نور حدیث، ترجمه و شرح کښې لټول. او نور هم ډیر څه شامل کړے شوي دي.

[1] ... دلوں کا چین، صفحہ:4.

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:258.

هم نن په خپل موبائل کښې دا اپيلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! ېخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو له هم ترغيب ورکړئ!.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د روژې په باره کښې د يو څو مدني ګلونو بيانولو سعادت حاصلوو.

## روژه ماتوونکې څيزونه

اے عاشقانِ رَسُول! د طعام خوړلو، اوبو څښلو يا همبستري [يعني خپلې بي بي سره کور والے] کولو سره روژه ماتيږي، چې روژه درته ياده وي ✿ د حقے، سګار، سګريټ، چرس وغيره څښلو سره هم روژه ماتيږي، اګر چې په خپل ګمان کښې حلق ته لوږے نه رسي ✿ پان يا صرف د تمباکو خوړلو سره هم روژه ماتيږي اګر چې بيا بيا دا توکې، ځکه چې حلق ته د دې نرې اجزا خامخا رسي ✿ د ګوړې [يا يو خوږ] وغيره داسې څيزونه کوم چې په خُله کښې د کينبودو سره ويلې کيږي په خُله کښې کيږدې او لاړې تيرې کړې، روژه ماتيږي ✿ د غاښونو په مينځ کښې څه څيز د چنې برابر يا زيات وو هغه ئې اوخوړو يا کم وو خو د خُلے نه ئې راويستلو او بيا ئې په خُله کښې واچولو او اوئې خوړلو نو روژه ماته شوه ✿ غاښونه وينې شول او وينه د حلق نه ښکته لاړه او وينه د لاړو نه زياته يا برابره يا کمه وه خو د هغې مزه په حلق کښې محسوسه شوه نو روژه ماته شوه او کمه وه او مزه هم په حلق کښې محسوسه نه شوه نو روژه ماته نشوه ✿ خُلے ته ئې اوبه اچولې بغير د ارادې نه اوبه حلق ته لاړې يا په پوزه کښې ئې اوبه اچولې او دماغو ته لاړې روژه ماته شوه خو که روژه نيول ترې هير وي نو نه به ماتيږي اګر چې قصداً عمداً وي ✿ داسې

روژه نيوونكي طرف ته چا څه څيز اويشتلو هغه د هغه حلق ته لاړو نو روژه ماته شوه ❁ په اودو (يعني د خوب په حالت كښې) ئې اوبه اوڅښلې يا ئې څه اوخوړل، خُله ئې بيرته وه د اوبو څاڅكے يا د باران ړلئ ئې حلق ته لاړه نو روژه ماته شوه ❁ د بَل چا لاړې ئې تيرې شوې يا ئې خپلې توكلې لاړې په لاس كښې را واخستې او تيرې ئې كړې نو روژه ماته شوه ❁ په خُله كښې ئې رنګين تار وغيره كيښودو په كوم چې لاړې رنګينې شوې بيا ئې لاړې تيرې كړې روژه ماته شوه ❁ اوښكې خُلے ته لاړې او تيرې شوې، كه چرې يو څاڅكے دوه څاڅكي دي نو روژه ماته نشوه او كه زياتې وې چې د هغې مالګينې تريو والے په ټوله خُله كښې محسوس شو نو روژه ماته شوه. د خوَلے هم دغه حكم دے.[1]

د رَمَضَانُ المُبَارَک د فضيلتونو او د روژې په باره كښې د تفصيلي احكامو او مسائلو نه د ځان خبرولو د پاره د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ ډير ښكلے كتاب **فيضانِ رمضان** اولولئ! الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راكړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب      صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... فيضان رمضان، صفحه:131 تا 132.

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷
2... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹
3... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

ئي هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئي هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئي چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵